يو سړي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وړاندې په چپ لاس خوراک کاوه، نو ويې فرمايل: « په ښي لاس وخوره» هغه وويل: نه شم کولای: هغه وفرمايل: ويې نه کړای شې

له سلمه بن الأكوع رضي الله عنه څخه روايت دی چې: يو سړي د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وړاندې په چپ لاس خوراک کاوه، نو ويې فرمايل: « په ښي لاس وخوره» هغه وويل: نه شم کولای: هغه وفرمايل: ويې نه کړای شې(يعنې لاسونه دې شل شه) هغه - له دې څخه کبر منع کړ چې په ښي لاس خوراک وکړي- وايې: ويې نه کړای شول چې خپل لاس خولې ته پورته کړي.

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم يو سړی وليده چې په چپ لاس يې خوراک کاوه، نو امر يې ورته وکړ چې په ښي لاس خوراک وکړي، سړي په کبر او درواغو سره ځواب ورکړ چې نه شي کولای! نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته ښېرا وکړه چې په ښي لاس له خوراک کولو څخه محروم شي، نو الله تعالى - د هغه سړي په حق کې - د خپل پېغمبر بد دعايي قبوله کړه او د هغه سړي ښی لاس شل شو چې له هغه وروسته يې بيا د خوراک او څښاک لپاره پورته نه کړ.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3372